مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۷/۰۹

# خوشحاله اوسېدل لوی هنر دی

هر څوک له خپل کاره شکايت کوي. ټول ترينګلي دي. رييس په رياست کې نه دی خوښ، وزير له خپلو ستونزو سر ټکوي، ډاکټر وايي: ((زما نو څه ژوند دی، نه مي ورځ معلومه ده نه مي شپه))، انجينير وايي: ((دلته پوهه په درد نه لګېږي. ما شل کاله درس ويلی اوس د يوه بېسواده سري مزدور يم، څه دی چې هغه پيسي لري او شرکت يې جوړ کړی.))، دوکاندار درسره دوه خبري نه کوي، وايي: ((وروره همدا يې بيه ده. که يې اخلې وايي خلې که نه نو ماغزه مي مه خوره.)) لنډه دا چې زموږ هر وګړی له خپل کاره راضي نه ښکاري.

څو موده مخکي هندوستان ته تللی وم. د ډيلي په ټرمينل کې سم بازار لګېدلی و. هره خوا د فري ډيوټي ( free duty) دوکانونه وو. پلورونکو به د هري پوښتني ځواب په موسکه خوله راکاوه. ما ويل دوی خو په داسي لوکس ځای کې کار و بار لري نو ځکه خوښ دي. له هوايي ډګره ووتو، هوا ډېره ښه وه، مخکي باران شوی و. ملګري مي وويل راځه چې يو څو ګامه پلي وګرځو. روان شو. د سړک په غاړه کې شين چمن او غوړېدلي ګلان ولاړ وو. د چمن په هره څنډه کې دري څلور ښځي په للون لګيا وې. هغوی هم په خپلو منځو کې سره خوندور مجلس جوړ کړی و او هم يې کار کاوه. ما ځان سره فکر وکړ: چې دوی خوشحاله نه وي نو څوک به خوشحاله وي، د ګلو په منځ کې اوسېږي، خورلني يې تر څنګ ناستې دي نو څه غم به يې وي. ميده ميده باران شروع شو. مخ مي پورته اسمان ته نيولی و او همداسي پر مخ روان وم، د باران څاڅکي مي پر مخ لګېدل او خوند يې راکاوه. پاکه صافه هوا، نه دوړي نه د موټرو لوګی. زما د تندي ګونځي چې له کابله مي راسره راوړي وې، کرار کرار لرې شوې. باران تېز شو، په يوه شيبه کې يې لانده خيشته کړو، خو بد راباندي نه لګېده. د يوې کوټې ديوال ته مو پناه يوړه، ټيکسي راغله، په کې کېناستو. ټيکسيوان هم راته خوشحاله واېسېد.

پر سبا يې کنفرانس پيل شو. د کنفرانس په ماښام په هوټل کې کنسرت و. يوه نوې ځوانه مسته هنري ډله يې رابللې وه. هلته مشر و کشر نه و معلوم، دا نه وو چې لوی پروفيسر دې ووايي زه نو څنګه د خپلو شاګردانو په مخ کې وګډېږم، ټول په ميدان کې وو. خپل محفلونه مي راياد شول، هغوی چې ځان ته لوی وايي په چکچکو هم شرمېږي. د يوه نسبتاً لوی چاروکي د نڅا کليپ په کابل کې په ډېرو موبايلونو کې خوندي دی. هر چا به ويل راځه پلانکی درته وښيم، د زوی په واده کې نڅېدلی دی. هغه سړي بيا استعفی ورکړه، خلکو به ويل: ((استعفی يې نه ده ورکړې، حکومت د همدې کليپ په وجه له کاره شړلی دی.)) زه ګمان کوم موسيقي د انسان په فطرت کې نغښتې ده. زوی مي د پنځه لسو مياشتو دی، چې مسته سندره واوري نو ورته ګډېږي خو چې د غزل غونډې ارامه سندره چالانه شي نو دی ورسره آلاب کوي (آآآآآآآ).

د کنسرت په بهير کې د هوټل لس دوولس تنه ګارسونان پتنوسونه په لاسو کې د مېلمنو په منځ کې ګرځېدل. په پتنوسونو کې د چرګ کباب، سره کړي پنير او يو بل ډول کباب چې ما پخوا نه و ليدلی، پراته وو. دوی به پتنوس د هر مېلمه له مخي تېراوه، که د چا زړه ورته کېدل، نو شخوند به يې پرې واهه. په ځينو پتنوسونو کې د څښاک ګېلاسونه ګرځېدل، الکولي او ناالکولي هر راز څښاک چې به دې غوښتل. ګارسونانو له پتنوسونو سره خپل ورين تندي ګرځول. ما ته نو دا بيخي جالبه وو. زړه مي نه کرارېده، يو ګارسون مي ودراوه: ((ته له خپلې دندې خوند اخلې؟)) نه پوهېږم هغه به څه فکر کړی وي چې دا نو څرنګه پوښتنه ده، خو زما ځواب يې په عادي انداز کې راکړ:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالبرلو مخکي په خير و لولئ

((هو، ښاغلیه)) ما پر اوږه وټپاوه، ومې ویل: ((بهترینه دنده هماغه  ده چې ته ځنې خوند واخلې.)) رخه مې ورته راغله.

د تنظیمي جګړو پر مهال ایله د سر په فکر کې وو چې له دې اخ و ډبه به ژوندي راوځوو او که نه؟ شپه او ورځ خپه خپه وو. طالبان راغلل، سرونه مو په امن کې شول خو د نس په غم اخته شو. کار نه و، روزګار نه و. امر بالمعروف یې لا بل غم. بیا خپه وو، ځان سره مو ویل چې یو ځل د طالبانو له ظلمه خلاص شو نو بیا به غم نه لرو. طالبان لاړل، دیموکراسي راغله. د ډیرې واک مو خپل شو. کار و بار مو ښه شو، ژوند مو سم شو.  خو لا هم خوشحاله نه یو.

د انسان حرص ختمېدا نه لري. که په بې وزلۍ کې خوشحالي تجربه نه کړو نو په شتمنۍ کې به یې مخه هم ونه وینو. دا مې د هندوستان له خلکو زده کړل چې خوشحالي په مقام، مسلک، پیسو او نورو شیانو پورې نه وي. خوشحالي یوازې د خوشبین انسان په زړه کې وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ